# مطبوعاتي اعلاميه

## د جمعې او جماعت لمونځونو ځنډول ناروا دي

نصرالدين مفرح، د سوډان د حج او اوقافو وزير د دريو اونيو لپاره د خرطوم ولايت په ټولو مسجدونو کې د جمعې او جماعت لمونځونه د ځنډولو پرېکړه وکړه.

دا ډېر د تأسف ځای دی چې د شريعت له خوا ټاکل شوي انفرادي مکلفيتونه د حق او حقيقت پر اساس نه، بلکې د سياسي يا مالي لاسته راوړنو لپاره له پامه غورځول کېږي. په دې اړه خلکو ته قانوني حکم روښانه دی. موږ حزب التحرير ـ ولايه سوډان، د سوډان او نورو مسلمانانو ته لاندې حقايق تشرېح کوو:

**لومړی:** د ساري ناروغيو د خپرېدلو له امله د جمعې او جماعت لمونځونو پرېښودل عمومي نه، بلکې يوازې د هغو ناروغانو لپاره اصل دی چې بايد بېل شي او د جمعې يا جماعت لمونځونو ته د ننوتلو اجازه ونه لري. د حفظ الصحې او تعقيم ټول اقدامات بايد

ترسره شي، په داسې حال کې چې روغ خلک کولای شي له کومې مداخلې پرته د جمعې او جماعت لمونځونو ته ادامه ورکړي.

**دويم:** د جمعې او جماعت لمونځونو لپاره داسې شواهد نشته چې د تل لپاره بايد قطع شي، بلکې د ترسره کولو لپاره يې ګڼ شمېر ته اړتيا نشته.

**درېيم:** د جماعت لمونځ فرض کفايي دی، چې بايد خلکو ته تشريح شي، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمْ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدْ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمْ الشَّيْطَانُ، عَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّمَا يَأْخُذُ الذِّئْبُ مِنَ الْغَنَمِ الْقَاصِيَةَ»**

**ژباړه:** *«که په يوه کلي يا صحرا کې درې کسان پر لمانځه ونه درېږي، شيطان پرې غالب کېږي، نو لمونځ په جماعت سره وکړئ؛ ځکه چې لېوه يوازې هغه پسه خوري چې له رمې څخه ليرې پاتې وي.» [ابو داود]*

**څلورم:** د جمعې لمونځ فرض عین او انفرادي مکلفیت دی، چې یوازې د شرعي عذر لپاره پرېښودل کېږي، لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إِذَا نُودِي لِلصَّلاَةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾**

ژباړه: *«کله چې د جمعې لمانځه لپاره غږ (اذان) وشي، نو د الله سبحانه و تعالی د ذکر (لمانځه) خواته ور ودانګئ او پېرل، پلورل (رانیول او خرڅول) پرېږدئ. [الجمعه: ۹]*

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةٌ: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَرِيضٌ»**

ژباړه: *«د جمعې لمونځ پرته له لاندې څلورو کسانو څخه پر نورو ټولو مسلمانانو باندې واجب دی: غلام، ښځه، ماشوم او ناروغ. [ابو داود]*

**پنځم:** داسې ویل چې ټول ښايي د ساري ناروغۍ خطر ولري او د دې مخنیوی نه شي کېدلای، یو کمزوری احتمال دی؛ په ځانګړې توګه چې د جماعت د لمانځه لپاره تر ټولو ټیټ شمېر دوه کسان او د جمعې د لمانځه لپاره تر ټولو ټیټ شمېر بیا دری کسان دي او دا مناسب دی چې ترسره شي. احتیاط په دې مانا نه دی چې واجب پرېښودل شي، بلکې دا د احتیاطي ګامونو د اخیستلو پر مهال ترسره کېږي.

دا واقعاً ډېره دردوونکې ده چې د اسلامي خاورو واکمنان د استعماري کفارو پر پلونو اېنچ پر اېنچ پل ږدي، که دا هېوادونه د یوې ځانګړې ناروغۍ په درملنه کې ستونزه هم ولري، دوی یې څاري او که دوی د حل وړاندیز ورکړي، حتی که ناسم حل هم وي، د اسلامي خاورو واکمنان یې ستاینه کوي او روغتیا په پام کې نیسي!!

د خلافت دولت حاکم به ان شأالله د دغه ډول معاملو په ترسره کولو سره د کفارو قدمونه نه، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښود به څاري؛ ځکه هغه څوک کولای شي ګډون ونه کړي

چې شرعي عذر لري، پاتې نور ټول ګډن کولای شي؛ ناروغ جلا کېږي او روغ خپل کار ته ادامه ورکوي، دوی ځي مسجد ته چې لمونځ وکړي او الله سبحانه و تعالی ته د دعا لاسونه لپه کوي، چې د دې ناروغۍ له شر او وبا څخه یې وژغوري. دا حق دی:

**(فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ)**

ژباړه: *«نو له حق وروسته له ګمراهۍ پرته نور څه پاتې شول؟»*

*[یونس: ۳۲]*

**ابراهیم عثمان (ابو خلیل)**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي مطبوعاتي ویاند**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د شعبان ۲۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۱۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۴۶**